نظرمحمد مطمئن ۲۰۱۶/۰۶/۰۵

# د بیان آزادي او د نه زغم نوې څپه

کله چې امریکایانو د طالبانو پر حکومت برید وکړ او کابل یې ونیو په هلمند کې وم. حامد کرزی د ۶ میاشتنی لنډ مهالي اداري مشر اعلان شو. د هلمند د وخت والي وغوښتم، زما یې درناوی وکړ، خلکو ورته معرفي کړی وم. یوه میاشت بیا هم په اطلاعات او کلتور کې پاتې شوم. زما وړاندیزونه یې ومنل او د راډیو نشرات زما په خوښه وو. دا چې پخواني کمونستان پرې راټول وو، ورڅخه ولاړم .
کندهار کې مې له کورنیو، بهرنیو او ملګرو ملتونو دفترونو سره کار کاوه، نظریات مې همدا وو، چې په لیکلي ډول او د ټلویزون پر شیشه یې له ولس سره شریکوم. په هیڅ دفتر کې راته ستونزه نه ده جوړه شوې، تر دې چې زما د نظریاتو درناوی کیدی او په ډیرو ختونو کې کورنیو او بهرنیو وګړو مې تحلیل او نظریاتو ته درناوی درلود، د ټولنې د فکر یوه برخه یې ګڼل او تر ډیره یې خبره راسره منله.
کندهار کې د کار کولو پرمهال مې څو ځله د پخواني ولسمشر کرزي ورور احمدولي کرزی لیدلی وو. کله چې احمدولي کرزی د کندهار د ولایتي شورا مشر و، ما د ملګرو ملتونو د ساختماني پروژو د پلي کولو په دفتر کې دنده درلودله. هغه چې د جنوب ولایتونو پاچا ګڼل کیدی، او خلکو یې خبره په ځمکه نه غورځوله، تر ډیره ما اعتناء نه ورته کوله، او ملانقیب اخوند چې په دولت کې یې دنده نه درلوله، د هغه کوم سپارښت لیک چې به راته ورسیدی، هغه مې پرته له دې چې د شخص په اړه پوښتنه وکړم، د هغه سپارښت مې مانه.
همدا خبرې به احمد ولي خان ته هم رسیدلې، او د کندهار ولایتي شورا ځینې غړې خو به زما دفتر ته راغلل، خو هغوی پوهیدل چې پر ما د دوی راتګ اغیز نه لري.
احمد ولي خان کرزي خپل کور ته ورغوښتم، د خبرو پرمهال مې ورسره په الفاظو کې زېښتوالی راغی، د هغه وخت د انکشاف دهات رئیس پیرعلیزی هم ناست وو، هغه ډیر ورڅخه ویریدی، او په خپل ځای کې ښوریدی، درې ځله مې یوه خبره کټ مټ کرزي صاحب ته تکرار کړه:
کرزی صاحب! په ټول عمر پرته له الله ج، له هیچا څخه نه یم ویریدلی. دریم ځل چې کرزي صاحب راته وویل چې ځوان یې لږ احتیاط کوه، دا وخت نو ورڅخه رخصت کیړو او محافظین یې هم ولاړ وو، ما بیا هم همدا خبره ورته وکړه او د ده ولاړو ساتونکو هم زما خبرې واوریدې.
د انکشاف دهات رئیس ډیر خفه وو، او زه د هغه په تینګار کرزي صاحب ته ورغلی وم. له همدې ورځې وروسته چې هر ځای به زه احمدولي کرزي ولیدم، که به وزیران او یا نور مشران ورسره وو، ماته به د روغبړ له پاره راګرځیدی. د هغه تر مرګ دوه میاشتې مخکې مې چې ټلیفون ورته وکړ، زموږ یو کلیوال په پلچرخي کې بندي وو، کرزی صاحب د مشرانو سره په مجلس کې ناست وو، هغوی ته یې وویل چې «د انجنیر خبره به خلاصه کړم بیا به نور مجلس کوو».
احمد ولي کرزي ماته زما د سختو خبرو اړوند اخطار رانه کړ، او نه یې زه تهدید کړم، بلکې یو ډول یې په وروسته وخت کې تشویق هم کړم چې حق خبره هرځای باید سرې وکړي.

**کرزی او بیان آزادي:**

د پخواني ولسمشر کرزي په وخت کې مې د هغه اړوند سختې لیکنې په بریښناپاڼو کې خپرې شوې، په انګریزي ژبه هم تر نړیوالو ورسیدې.
په ۲۰۱۳ ز. کال کې مې د (له ولسمشره تر ولسکشره؟!!! هیواد وال په ویره کې دي) تر سرلیک لاندې لیکنه خپره شوه. خو چا راته بد ونه ویل او نه هم تهدید شوم.
په پنجوایي کې چې امریکایي پوځي ماشومان، میرمنې او افغانان ووژل د (کرزي ته د خپل زوی میرویس جان لیک) تر سرلیک لاندې مې لیکنه خپره شوه. ډیر وخت د بریښنایي پاڼو پر لومړي مخ دغه لیکنه پرته وه.
ماته کوم دولتي چارواکي اخطار رانه کړ او نه هم کوم چا تهدید کړم او یا یې دفتر ته وغوښتم.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

د ناټو ۸۰ الوتکې څه شي ويجاړې کړې: ړلی که مرمی؟ زما بله ليکنه وه چې د کندهار هوايي ډګر کې د ژلۍ اړوند په پښتو او عربي خپره شوه. هيڅا هم پرڅان بده ونه لګوله.
اصلي طالبان او جعلي طالبان: کرزی انديښنه لري که دسيسه؟ زما بله ليکنه وه. چې په بريښناپاڼو کې خپره شوه. او داسي په لسګوګونو نوري ليکني او مثالونه شته.
د استاد عبدرب الرسول سياف، د حضرت صبغت الله مجددي، د طالبانو د وخت د مالیي وزير معتصم اغاجان، د قطب الدين هلال، تورن اسماعيل خان اړوند ليکني
د طالبانو د مشرانو، د افغان جهادي ګوندونو اړوند او بېلابېلې ليکني مې د پخواني ولسمشر کرزي په وخت کې خپرې شوي.
د ټلويزون په پرده مې ډير ځله هغه وخت او لاهم په اوس وختونو کې د حامد کرزي پر تګلارو نيوکې کړې دي.
زما ښه ياد دي کله چې اسدالله خالد د ملي امنيت مشر وټاکل شو، ډيرو ويره درلودله چې د بيان آزادي او نورو برخو کې به محدوديتونه ولګول شي. ولي د معلوماتو پر بناء چې په هغه وخت کې د نظرونو او تحليلونو څرګندولو له امله چاته ګواښ نه دی شوی.
د رحمت الله نبيل په اړه هم ويل کيږي چې د کرزي کړنلاره يې مخکې وړله، په دي برخه کې يې د نظر له خاوندوانو او ليکوالو سره احتياط کاوو، يواځې د سميع الله ترون مسئله وه چې رامنځته شوه.
د شهيد روحاني قضيه او د شهيد اميد قضيه چې په هلمند او ارزګان کې پيښې شوي، د يوې پړه يې پر سيمه ييزه اداره او د بلې پړه پر ناټو ځواکونو اچول کيده.

**د «تکنوکرات» واکمنۍ کې د بيان ازادي:**

کله چې ډاکټر اشرف غني واک ته ورسيدی، همدا ويره مې له لومړي ورځې وه چې دا خلک به د کرزي په پرتله هغه آزادي چې د بيان په نوم خلکو ته ورکول شي، دا به محدوده شي. د ده د حکومت په لومړيو ورځو کې مې د بيان آزادي او د اشرف غني ځيني پلويان دا ډول ليکوال؛ نظرونه او ليدونه تر سرليکو لاندي ليکني خپرې شوې.
دا ډول بله ليکنه مې اشرف غني خو راغی، جنګ به وي که امن؟ او (د مجاهدينو «زغلوونکی» بيا راغی!
ښه جاسوس، بد جاسوس...د کليمو بحران! تر سرليکو لاندي خپرې شوي.
د ګډ حکومت پرمهال دا وروستی ليکنه مې بيا (د اسلامي حزب او ګډ حکومت ناکام مذاکرات) تر سرليک لاندي خپره شوه.
يو ځل چې د ولسمشر غني لومړی ناسته له خبريالانو، ليکوالو او رسنيو د مشرانو سره وه، زه هم ارګ ته وغوښتل شوم. ماته هغه وخت دا خبره ډيره تعجب وه، چې د کرزي په ۱۳کلن حکومت کې زه چا هم ونه غوښتم چې چيرته په دولتي ناسته کې ګډون وکړم. سوالونه راسره پيدا وو. ورنغلم.
بيا څو هفتې د ارګ له ناستې څخه وروسته په کانيننتل هوټل کې د ليکوالو او رسنيو د مشرانو سره ناسته وه، ماته يې ورځ دوه مخکې خبر راکړی وو، هلته مې شرکت وکړ.
په ګردي ميزونو کې د خبرو او نظر ښکاره کولو پرمهال مې هر وخت ويلي چې جګړه د حل لاره نه ده، د ربښتوني سولې له پاره بايد موږ افغانان لاس په کار او د بين الافغاني تفاهم له پاره زمينه برابره کړو. پر حکومت مو ږغ کړی چې مخامخ د طالبانو د سياسي کميسون له استازو سره اړيکه ونيسي د دي پرځای چې پاکستان او يا کوم بل هيواد ته امتيازات ورکړل شي.
د روان زيږديز کال د مۍ مياشتې پر ۲۵مه نيټه چې ولسمشر غني د ولايتونو د خبريالانو او رسنيو د کارکوونکو ته خبري کولې هغوی ته يې وعده ورکوله چې د بيان آزادي ته احترام او که ليکوال او يا خبريال ته چيرته تهديد وي، موږ يې مرستې ته چمتو يو. په همهغه ورځ يو تن ليکوال او د سولې په برخه کې فعال نيول کيږي او زندان ته لويږي او ما (ليکوال) ته هم ګواښ کيږي چې له خپلو نظرياتو څخه ډډه وکړم او د حکومت په ګټه نظريات د ټلويزون په پرده خلکو ته وړاندي کړم.
دا چې هلمند کې د ناامنيو له کبله ژوند کول راته ګران دي، هلته به مې يوه ډله د طالب او بله ډله د حکومت په تور تورنوي، ژوند به تريخ وي، په کندهار کې هم ستونزې دي چې هلته واوسم، کابل مې نسبتاً د ژوند تيرولو له پاره وړ ګڼلی دی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولـئ

**کله چي سولهغوښتل نه زغمل کيږي!**

يو قلم، سپين کاغذ او يو کمپيوټر سره کابل کي ناست يم، په تيرو ۱۵ کلونو کي مي هيڅکله له هيواده بهر ته د وتلو زړه نه دي ښه کړي. له ۲۰۱۰ ز. کال څخه د سولي په برخه کي فعال پاتي شوی يم، په دی برخه کي مي له کورنيو او بهرنيو د سولي اړوند څيړونکو سره نظرونه شريک کړي، د سولي اړوند په نړيوالو او کورنيو کانفرانسونو کي مي فعاله ونډه اخيستي ده. د سولي اړوند مي په لسګونو ليکني په پښتو، دري، عربي، پولنډي او انګريزي ژبو کي خپري شوي دي .

افغانان او مجهول راتلونکی

افغان ها و آيندهٔ مجهول

يادداشت هاي مهم پيرامون روند صلح

سياسة واحدة الحرب أو الصلح و«ضربة سياسية قوية» من «طالبان»

Key Reminders about Afghan Peace Process

HOW PEACE CAN BE ACHIEVED

ښه به دا وای چي يوې مسوولي مرجع په سم ډول سره راته مکتوبي او يا شفاهي ويلي وای چي نور د کورنيو ټلويزونونو په ګردي ميزونو کي له ګډون څخه ډډه وکړم. دا ډول که دغه کار د اطلاعاتو کلتور وزارت له خوا شوی وای، ښه به وای.

پر دي هم بسنه ونه شوه چي په ټلويزونو کي د اخطار خبره ده، ليکني وشوي، د چارواکو له خوا وشوي، هڅه کيږي چي ذهنيت دي ته چمتو شي چي زموږ په ډول له يو قلم او کمپيوټر سره ناست خلک يا خو له هيواد څخه بهر وتلو ته مجبوره شي او يا په زندان باندي وويرول شي.

**ارګ د رسنيو خولي تړي!**

اسدالله غضنفر صاحب په ارګ کي ناست دي، کله چي په بي بي سي کي د دولت ناخوښه خبره او راپور خپريږي، هغه په ايميل خپل کشر ورور، ايمل پسرلي ته وايي چي احتياط، کله چي په آزادي راډيو کي کومه د دولت ناخوښه خبره خپريږي بيا خپل بل ورور، عصمت ځاروان صاحب ته ټليفون، او يوه پانه خو يې د حکومت خدمت ته ځانګړي کړي.

طلوع ټلويزون د تودي خبري پروګرام په اونی کي دري واري خپريدو ته راتيت کړ، او وخت يې هم د شپي يولس بجي چي خلک بيده شي، تودو خبرو کي د ګډونوالو لسټ هم ورته مشخص شوی. زه خوشحاله يم چي د بي بي سي راډيو او طلوع ټلويزون د تودو خبرو پروګرام کي زما پر نوم سور خط کش شوی. البته د طلوع ټلويزون په خبري ټولګو کي کله ناکله بلنه راکول کيږي. دا دی اوس د يو ټلويزون هم له دي مشکل څخه خلاص شو، نور دوی ته هم او ماته هم د نه ګډون بهانه جوړه ده.

که په خبرو کولو بنديز نتيجه ورکولای، د کمونستانو وخت کي بي بي سي راډيو او دا ډول د درو نفرو يوځای کيناستلو او مجلس کولو باندي بنديز وو. که بنديز نتيجه ورکولای، عربي نړۍ او د منځنی اسيا هيوادونه به اوس ګل ګلزار وای. که زندان او وژنو نتيجه ورکولای نو تر اوسه به په هيواد کي د حفيظ الله امين او ببرک کارمل حکومتونه پاتي وای.

که جګړو نتيجه ورکولای نو اسلامي حزب او جمعيت +شورا نظار به خبره يوطرفه کړي وای. که زور کار ورکولای نو طالبان د هيواد پر ۹۵ سلنه خاوره واکمن وو. هغوی به قضيه يو طرفه کړې وای.

اصلاً که د افغانستان د کابو څلور لسيزو جګړې رينبو ته وکتل شي، تر ټولو عمده دليل يې همدا سياسي انحصار او د يو بل نه زغمل دي. د کمونيستانو له کودتا را نيولي تر اوسنی دوري پوري، هر څوک چي واک ته رسيدلي، که تر هر نامه وي (خلق دموکراتيک، اسلامي دولت، امارت اسلامي، اسلامي جمهوريت) هڅه يې کړې خپل مخالف لوری وټکوي، او له صحنې يې وباسي. همدا خو زموږ د کشالي اصلي دليل دی. هغه ليکوالان، اکاډميک کسان، څيړونکي او ډيری غربي چارواکي چي د افغانستان د جنګ اوسني پړاو ته منصفانه او هر اړخيز نظر لري، په دې باور رسيدلي چي د طالبانو له سقوط وروسته د هغوی د بيا را پيدا کيدو لوی عامل په لوی لاس د هغوی ټکول وو.

يوه لسيزه مخکي که له سياسي انحصار او د طالب په نامه د ولس د ځپلو پاليسي نه وای، اوس به موږ له يوې تمام



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de

يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

عياري جګړې سره نه وو مخ. اوسنی ولسمشر داسي يو څوک دی چي تمه کيده دا مسايل تر پخوانيو ښه درک کړي.
په پيل کي غني څو ځله داسي اشارې هم وکړې چي مثبت ځرک تري لګيده. څو ځلي يي په بهرنيو کنفرانسونو او کور دننه کي طالب ته د سياسي مخالف په توګه اشاره وکړه. په واشنګټن کي په خپلو خبرو کي يي وويل چي طالبان د خپل مخالفت لپاره ځيني مشروع دلايل لري. خو له بده مرغه وروستيو کي داسي ښکاري چي هغه سياسي درک چي د سوله ايز ډيالوګ او بحث لپاره يي بحث پرانيستلی شوای، اوس مخ په تتېدو دی. او دا خبره ټول هغه د سولې خواخوږي فعالين درک کوي چي مسايل له نږدې ځاري. ګومان کوم څومره چي د بحث لپاره، او د يو بل نظر اورېدلو لپاره زغم زياتېږي هغومره د کشالي حل سوله ايز طرف ته نږدې کېږي. او څومره چي د اختناق او نه زغم روحيه پياوړې کېږي، هغومره موږ له يو سوله ايز حل څخه ليرې کېږو. که د مختلفو نظرونو خاوندان او سياسي اقشار چي هېواد او سولي ته مخلص وي، سره په ګډه کار وکړي، يو بل ته غوږ ونيسي او متقابل احترام ولري، نو اوس هم د سولي د راستنيدو لپاره ډيرې هيلي شته. خو د بيان او نظرځرګندولو د شته دروازو بندول يوازې د هغو تېروتنو تکرار ته لاره هواروي چي تل يي موږ له يو جنګه په بل جنګ اړولي يو. چي زندان، وژني، زور او جګړې نتيجه نه ورکوي، نو بيا ولي د يو بل د نظر زغم نه شو درلودلای، ولي د يو واحد او پرمختللي افغانستان له پاره په ګډه کار نه شو کولای.

**بې رسنۍ ډيموکراسي!**

رسنۍ او د بيان آزادۍ په ډيموکراتيکو حکومتونو کي ځلورمه ستن بلل کېږي. موږ خو بيا مسلمانان يو، دومره به هم نه ډيموکراتان کېږو چي پرېږدو هر څوک د ډيموکراسۍ په نامه هر څه وايي ومنل شي. د بيان د آزادۍ له ارزښت څخه بايد ګټه پورته شي. دا هم ښېخي بې انصافي ده چي حکومت يوازې پر ځان نقد نه شي تحمل کولی خو نور نه د ملي دود سترګو ته وکتل شول او نه هم د اسلامي شريعت!
د ډيموکراسۍ په نوم داسي خپروني وينو چي يو ملتزم مسلمان يي له خپلي کورنۍ سره نه شي کتلی. دا هر څه موږ ته د ډيموکراسي په نامه راښودل کېږي.
جالبه دا ده چي د افغانستان په سياسي تاريخ کي داسي وخت د بيان آزادي زندۍ کېږي چي موږ د «ټکنوکرات» په واکمنۍ کي ژوند کوو. ډاکټر صاحب غني د پوهنتون استاد و او مشهور په تکنوکرات دی. دا چي د تکنوکراتانو په حکومت کي د بيان له آزادۍ سره دومره ستوغ چلن کېږي، راتلونکي ته دې خدای خير کوي!

پای



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ